AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال
۲۰۲۰/۰۳/۲۸

# تر کورونا روسته نړۍ

## دريمه برخه

د لرغوني زماني په اړه بشرپېژندنه او اسطوره پوهنه راته وايي، چې ګله يي انسانان (د Archaic homo sapiens او Upper Paleolithic دورو ترمينځ) د طبعيت له ډاره سره نږدې شول او کورنۍ و خپلخاني يې سره جوړې کړې، ګله به چې تالنده وګرزېده، نو دوی به يو بل ته له ويرې سره نږدې شول، ځومره چې يې د امنيت احساس کاوه او وېره له منځه تلله نو سره لرې کېدل.

نومهالي (معاصر) انسان تولېزه وېره زياته نه احساسوله، يو له بل سره يې اروايي ـ عاطفي نږدېوالي ته اړتيا نه پېژندله، خو اوس د کرونا له وېرې بيا سره نږدې کيږي، پر وګړواله (فرديت Individualism) اخته انسان تر زرګونه کاله روسته بيا ويريږي.

کورونا به د همداسي ويرې پربنسټ درې ميراثه پرېږدي:

۱ـ انسان انسان ته اړ دی. هغه مشهوره وينا، چې: (انسان د انسان ليوه دی) دا مهال ځکه ورو، ورو کمزوري کيږي، چې يو بل زورور ليوه راپيدا شوی دی او انسان بايد بېرته کورنۍ ژوند پيل کړي. د کمزوريو ژويو د رمه يي (ګله يي) ژوند يو لامل له داړونکيو ژويو د هغوی وېره ده.

۲ـ خوړو او لومړنيو ژوندتوکيو ته اړتيا به د قراردادي يا سېمبوليکي پانګي ارزښت له منځه يوسي. که د خوړو زېرمې مخ په خلاصېدو شي، هله به نو نغدې پيسې، سره زر، لوکسي ودانۍ، ورروستي ماډل ګاډي او له اړتيا وتلي فيشني جامې د هيچا نه وي په کار. ښايي تر يو کيلوسروزرو د يو من الوګانو او يوې کيلو لوبيا ارزښت لوړ شي. کروړ زمکه، اوبه او اوبخور، کرنه، بزګر او د خوړو توليد به لسګونه زره کاله پخوا غوندې اهميت و ارزښت پيدا کړي.

۳ـ کورنۍ ژوند به بېرته خوړشي. زېږون او له کورنۍ سره اوسېدل به د سپيو او پيشو ګانو د ساتنې ځای ناستی شي، ځکه ښايي نور نو د بانکي اکونټ او کرېډيټ کارت پرځای يوه زوی او لور ته اړتيا پېښه شي، چې په زړبودۍ کې د پلارومور لاسنيوی وکړای شي. په ختيځ کې دا ارزښت لا شته، خو ګڼو هېوادونو کې پرکورنۍ او بچيو د تکيې ځای پر دنده، کرېډيټ کارت او بانکي اکونټ تکيې نيولی دی.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په ځير و لولـئ